## KHURASAN UNIVERSITY OF HIGHER EDUCATION

# MANAGEMENT

Ketabton.com

By: Sir, Saidal khan

Written by ASIF MOBASSER

Asif Mobasser
Asifmobasser@gmail.com

# Management

Management is a process of achieving organizational goals by utilizing organizational resources effectively and efficiently.

Management is a process of Planning, organizing leading and controlling to achieve organizational goals effectively and efficiently.

منیجمنټ په لغت کی اداره کولو ته وایی اوپه اصطلاح کی دانسانی اومادی څواک پواسطه په کم وخت کی اوپه کم مصرف سره دسازمان موخولاسته راوړولوته مدیریت وایی

# *Efficiency*

Achieving organizational goals with less resources(less cost)

# Effectiveness

Right decision at the right time(less time)

## *Functions of Management*

## 1: Planning

Planning is a process of identification and selection courses of action to achieve organizational goals effectively and efficiently

دهغه پروسی څخه عبارت چه ددی پواسطه داداری اهداف ټاکو او ددغه اهدافو ترلاسه کولولپاره ستراتیژی جوړو(دفعالیتونودپروسی ټاکل دی چه ترڅو داداری اهدافوته ورسیږو

## (2)Organizing

Organizing is a process of creating works structures to achieve organizational goals effectively and efficiently

عبارت دهغه پروسی څخه دی چه ددی پواسطه دیواداری کاری ساختمان جوړو او صحیح کارکوونکی په صحیح تو ګه ګمارو ترڅودیوسازمان موخی په ګټوره او مؤثره ډول لاسته راوړو

## (3)Leading

ketabton.com - The Digital Library



Leading is a process of influencing behavior of organizational members to get organizational goals willingly and enthusiastically

هغه پروسی ځخه عبارت دی چه ددی پواسطه دسازمان کارمندان رهنمایی،رهبری کوو۔ ترڅودداداری اهداف لاسته راوړو

### (4)Controlling

Controlling is a process of establishing standard measuring performances and feedback to organization members in order to achieve organizational goals

دهغه پروسی ځخه عبارت دی چه ددی پواسطه دکارکوونکوکارونه دمعیار سره اندازه کوو او خپله نتیجه ګیری کارکوونکو۔ ته وړاندی کوو او ګورو چه ټاکل شوی هدف او پلان ترلاسه کیږی او کنه .

## Manager

Manager Is a person who is primarily responsible to carry and keep management process (planning, organizing, leading, controlling)

عبارت د هغه شخص ځخه دی چه دمنجمنټ دپروسې مسولیت پرغاړه لری یعنی پلان ګزاری کوی،دکارونوتینظیمول کوی،رهبری کوی،داداری ټول فعالیتونه کنترولوی

## Level of management

| | | |
|---|---|---|
| | Top level | |
| | Middle level | |
| | Lower level | |

## Top level management

پدی طبقه کی هغه لوړپوړی مدیران دنده ترسره کوی چه دندی یی په لاندی ډول دی
(۱)اداری ته داهدافو ټاکل
(۲)داوږدمهاله پلان جوړول
(۳)نظارت او ارزیابې کول
(۴)د غړو ټاکل بدلول او لیری کول

## Middle level management

په دی طبقه کی هغه منځګړی مدیران دنده ترسره کوی چه وظایف یی په لاندی ډول دی

ketabton.com - The Digital Library



(۱)لوړپوړ- مدیرانوته راپور ورکول
(۲)منځ مهاله پلان جوړول
(۳)ټیټ رتبه مدیران څارل اوارزیابی کول
(۴)ټیټ رتبه مدیرانو ته رهنمایی کول

## Lower level management

په دی طبقه کی ټیټ رتبه مدیران کارکوی او ددوی وظایف عبارت دی له
(۱)دکارګروسره مستقیما اړیکه درلودل
(۲)منځ پوړو مدیرانوته راپورورکول
(۳)د ځینو قوانیوجوړول
(۴)دکارمندانوستونزی حلول

## Kinds of managers by functions/areas

(1)Marketing manager

دهغه مدیرڅخه عبارت دی چه دمارکیټینګ ټول فعالیتونه ترسره کوی اوددی لپاره پلاننګ،تنظیمول،رهبری کول اوکنترولول کوی

(2)Financial manager

عبارت دهغه مدیر څخه دی چه دیوادارې دبودیجې لپاره پلان ګزاری کوی او ټول مالی فعالیتونه په غاړه لری

(3)Production manager

دهغه مدیرڅخه عبارت دی چه دتولید جوړولولپاره یومنظم سیستم جوړوی اودپروډکشن ټول فعالیتونه په منظه توګه ترسره کوی اودی ته Operator manager هم وایی.

(4)Human resources manager

دهغه مدیر څخه عبارت دی چه انسانی ځواک راجذبوی دهغوی انتخاب کوی، هغوی ته روزنه ورکوی او هغوی تشویقوی

(5) Other kinds of manager

په ځینوادارو کی مونږ خاص مدیران لرو چه په یوخاص فیلډ کی تخصص ولری لکه
Public relation manager, IT Manager

## *MANAGERIAL SKILLS*

### (1)Technical skill

یومدیرباید تخنیکی مهارتونه ولری لکه په کمپیوټرپوهیدل په کویک بوک پوهیدل

### (2)Human Skill

یوښه مدیربایددکارکوونکوترمنځ دهمکارۍ اوهمغږۍ د رامنځته کولو مهارت ولری اوپه اسانۍ سره وکولی شی چه دخپلو کارکوونکوڅخه په لږ وخت کی زیات کار واخلی

(3)Conceptual Skill

یوسازمان دیووالی اودهغه دتنظیم کولوځخه عبارت دی اوپه سختوحالاتوکې دمشکل دحل راویستل دی

(4)Design Skill

عبارت دهغه مهارت ځخه دی چه یو مشکل داسی حلول چه ټولی اداری ته ګټه ولری

(5)Communication Skill

په یوسازمان کی دیواداری داخلی اوخارجی غړوسره په مؤثره توګه اړیکه ټینګول اوګټورمعلومات ترلاسه کول

(6)Decision Making Skill یو مدیرپه صحیح وخت کی دصحیح تصمیم نیولو مهارت ولری

(7)Time Management یومدیربایدپخپل وخت کی په صحیح توګه سره اداره کړی اوکوشش وکړی په خپله اداره کی ګټورتوب رامنځته کړی

## Managerial rules

یومنیجرپه اداره کی باید لاندی نقشونه ترسره کړی

| Interpersonal | Informational | Decision making |
|---|---|---|
| Figurehead | Monitor rule | Entrepreneur |
| Leader rule | Disseminator | Disturbance handler |
| Liaison rule | Spokes person | Resource allocator |
| | | Negotiator |

## INTERPERSONAL

(1)Figurehead rule تشریفاتی نقش

دخارجی خلکوسره ښه راغلاست اوملاقات کول قانونی اسناد امضاکول

(2)Leader rule

دپرسونل رهنمایی کول دهغوی روزل،تشویقول اوپرسونل استخدامول

(3)Liaison rule داړیکونیولونقش

دسازمان دباندی افرادو،ګروپونو اوسازمان سره اړیکه نیول

## *Informational*

دیومدیرمهم نقش دادی چه په یوه اداره کی معلومات لاسته راوړی اوداداری په اړه نوروته معلومات ورکړی

1: Monitor rule دڅارونکی نقش

ketabton.com - The Digital Library



مدیردمعلوماتو لاسته راوړولولپاره دېولې اداری ځخه ځارنه او کتنه کوی

(2)Disseminator rule دخپرونکې نقش

یومدیربایدکوشش وکړی چه دیو اداری دنوی نوېتونو او عمومې اطلاعاتو په اړه کارکوونکوته معلومات ورکړی

(3)Spokesperson rule

یو ښه مدیربایددخپل سازمان په اړه نورو سازمانونوته معلومات ورکړی اوخپل لاسته راوړنې ورسره شریکی کړی

## ***Decisional rules***

یومدیرپه صحیح معلوماتودرلودلوسره په صحیح وخت کی صحیح تصمیم ونیسی

1: Entrepreneur rule دفرصتونو پیداکولونقش

په یوسازمان کی نوی تغیرات راوستل اونوی ستراتیژی جوړول ترڅوداداری اهدافوته ځان ورسوو

2: Disturbance handler دمشکلاتو حلوونکی نقش

یو ښه مدیردکمپنی ټول مشکلات حلوی

3: Resource allocator دمنابعوپیداکولونقش

یومدیربایدپه ښه اړیکو اوګټورو معلوماتوسره دمنابعو لاسته راوړل ،ویشل اودبودیجی ټاکل وکړی

(4)Negotiator rule مذاکره کوونکی نقش

# ***The Evolution of management thoughts (history)***

Scientific Management (Fredrick Taylor)

فریډریک ټایلر چه داوسپنی په کمپنۍ کی یی کار کاوه دعلمی مدیریت نظریه وړاندی کړه پدی نظریه کی داداری ټوله توجه دکارکوونکو په کموالی وه هغی وویل دکار دښه والی لپاره په مدیریت کی مؤثریت او ګټورتوب رامنځته شی لاندی ۴ ځلور اوصول یی وړاندی کړل

(۱)ټول کارونه دی دساینس دپرمختګ پرمټ پرمخ یوړل شی هرکارته دی ځانګړی ماشین په عملی بڼه رامنځته شی

(۲)دکسانوګمارل باید په علمی توګه وشی اوهغوی ته دی روزنه ورکړل شی

(۳)دخپلوکارکوونکوسره دزړه له تله همکاری وکړئ اودهغوی کارونو ځخه لیدنه وکړئ ترڅوزیات کارترسره کړی

(۴)کار اومسؤلیت باید په مساویانه توګه وویشل شی

### ***(B)ADMINSTRATIVE MANAGEMENT (HENRY FOYAL)***

هینری په خپله نظریه کی داسی وویل چه مونږ باید نه تنها په افرادوتوجه وکړو بلکی په ټوله اداره توجه وکړو هینری عمومی ځلور وظایف وړاندی کړل

ketabton.com - The Digital Library



- Planning
- Organizing
- Leading
- Controlling

هینری پخپله نظریه کی څوارلس اوصول وړاندی کړل

| | | |
|---|---|---|
| Division of work | Authority and responsibility | Discipline |
| Unity of command | Unity of direction | Remuneration |
| Subordination of general to interest | Centralization | Scalar chain |
| Equity | Order | Initiative |
| Stability if tenure | Esprit de corps | |

**(1)Division of work**

هینری وویل چه په یوه اداره کی ټول کارونه باید په سمه توګه وویشل شی

**(2)Authority and responsibility**

یومدیربایدخپل صلاحیت او مسؤلیت وپیژنی

**(3)Discipline**

ټول کارکوونکی باید دادارى قوانین اواوصول مراعت کړی

**(4)Unity of command**

په یوه اداره کی باید یوه مرجع امر وکړی

**(5)Unity of direction**

په یوه اداره کی باید یوپلان عملی شی اویوه لارښوونه وشی

**(6)Remuneration**

ټولوکارمندانوته بایدپه خپل وخت تنخوا ورکړل شی

**(7)Subordination of general to interest**

یو کارمندبایدداداري ګټوته اهمیت ور کړی

**(8)Scalar chain**

دلوړپوړو مدیرانو څخه ترټیټ پوړو مدیرانو پوری دصلاحیت ویش اوداوامرو اطاعت باید په منظمه توګه وی

**(9)Centralization**

په یوه اداره کی بایددتصمیم نیونی غړی معلوم وی ترڅوداداری مرکزیت معلوم شی

**(10)Equity**

دیوادارې ټولوکارکوونکوسره بایدیوډول چلند وشی

**(11)Order**

په یوه اداره کی باید مادی اوبشرۍ قوه په ترتیب سره وی په خپل وخت او ځای سره

ketabton.com - The Digital Library



## (12)Initiative

په یوه اداره کی دپریکړی نیولو اوپلان ی‌زارئ کسان باید دپوهی او نوښت قابلیت ولری

## (13)Stability if tenure

ددایمی کارمندانودنیولو لپاره باید یومنظم سیستم موجودوی کچیرته کوم دایمی کارمند مړ،استعفا یاتقاوت شی

## (14)Esprit de corps

یومدیربایددخپلوکارکوونکوتشویق په ګروپی شکل وکړی ترڅویووالی اوپرمختګ رامنځته شی

## ***Behavioral management theory Elton mayo***

پدی نظریه کی مدیر باید دخپلوکارکوونکو په رویش کارکرد او سلوک باندی ځان پوه کړی ترڅو وکولی شی په اسانی سره خپل کارمندان تشویق کړی

| Theory (x) | Negative |
|---|---|
| Theory (y) | Positive |

## Theory (x)

په یوه اداره کی ځینی کارمندان کار نه خوښوی اونه غواړی چه کار وکړی نو مدیربایدد دغه کارمندان کنترول،رهنمایی اوجزایی کړی

## Theory (y)

پدی نظریه کی کارکوونکی غواړی چه کار وکړی مګرد ځینو فکتورونوله وجی نا امیده شوی نومدیربایددوی په مختلفو طریقو تشویق کړی

## Environmental structure

Factors that affect directly and indirectly management process

هغه ټول فکتورونه چه دمدیریت پروسه مستقیما اوپه غیری مستقیما توګه متاثره کوی دهغه محیط څخه عبارت دی چه په هغه کی یوه اداره خپل کارونه ترسره کوی نومدیربایدد Environmental structure په اړه باید معلومات ترلاسه کړي.

### (A) GENERAL ENVIRONMENT

عبارت دهغه فکتورونو څخه دی چه په لویه اندازه موجود وی اودمدیریت په پروسه تاثیرکوی (External factors)هم ورته ویلی شو

(1)Economic factors

- Interest rate
- Inflation rate
- Gross domestic profit
- National income

ketabton.com - The Digital Library



- Tax rate

دیومملکت اقتصادی حالت په نظرکی نیول

(2)Technological factors

- Communication
- Production
- Decision making

یومدیرباید دټیکنالوجۍ پرمختګ اودهغی تاثیرات په اداره باندی په نظرکی ونیسی

(3)Legal factors

یومدیر بایددیودولت اوصول او قوانین په نظرکی ونیسی

(4)Political factors

یومدیرباید دیوټولنۍ دخلکوکلتور،دژوندتیرولوطریقه،مذهب،دکالیواغوستلو کلتور اودهغوی خوراک په نظرکی ونیسی

## (b)Operating environment

یو مدیرباید دمدیریت په پروسه کی دلاندی فکتورونوپه کومک سره دمدیرت پروسه مخته یوسی او دغه فکتورونه دمدیریت په پروسه مستقیما تاثیرکوی او دا فکتورونه نه کنترولیدونکی فکتورونه دی

### (1)Supplier

- ✓ Time
- ✓ Less cost
- ✓ Quality
- ✓ Background

People who provide raw material to organization

دښه عرضه کوونکی په انتخابولوسره په اداره کی ګټورتوب را منځته کیږی

### (2)Consumer

- Lifestyle
- Need
- Like and dislike
- Economic status

(3)Competitors

Product
Financial position
Personnel and facility

### (4)Labors

Cost
Wages

ketabton.com - The Digital Library



Quality (skill)

یومدیربایدد ښه اومؤثر کارکوونکوپواسطه کولی شی چه پخپله اداره کی مؤثریت رامنځته کړي.

(5)International

- Political
- Culture
- Laws
- Rules and regulation

کچیرته یو تجارت په بین المللی توګه وی نو مدیر ته لازمی ده چه دنورو خلکوسیاسی وضعه په نظرکی ونیسی

## © *Internal environment*

یومدیربایدپخپله تصمیم نیونه کی داداری منابع د اداری کمزورتیا نقطی او قوی والی په نظرکی ونیسی

## Planning

Planning is a process of defining organization objectives and establishing overall strategies to achieve those objectives effectively and efficiently

Planning is a process of decision making in advance

## Importance of planning

(1)Sitting direction for organization

پلان ګزاری مونږ سره داداری دمسیر په ټاکلوکی مرسته او همکاری کوی

(2)Reduce wasteful activities

دپلان ګزاری پواسطه مونږ دبی ځایه یعنی تاوان لرونکی فعالیتونه کمووـ

(3)Reduce uncertainty

دپلان ګزاری پواسطه کولی شو چه په صحیح وخت کی صحیح تصمیم ونیسوـ شکمن کیدو څخه ځان وژغوروـ

(4)Establish objectives and standard of control

دپلان ګزاری پواسطه مونږ اهداف ټاکو چه دغه اهداف دکنترول دپروسی لپاره معیار جوړیږی پلان ګزاری پواسطه کولی شو چه په یوه اداره کی نظم او ترتیب رامنځته کړو

## Types of plans

**(a)Plan on the bases of levels**

(1)Strategic plan (long range plan)

ketabton.com - The Digital Library



دهغه پلان ګڼل کیږي څخه عبارت دی چه دټاپ لیول منجمنټ پواسطه ترسره کیږی اوموده یی دپنځو کالو څخه زیاته وی

(2)Tactical plan
Specific utilization of resources

دستراتیژیک پلان دتکمیل په موخه رامنځته کیږی موده یی د یو کال څخه ترپنځو کالوپورې وی

**(3)Operational plan**

عبارت دهغه لنډمهاله پلان څخه دی چه موده یی دیوکال څخه کمه وی اودکوچنیو کارونودترسره کولو لپاره کیږی

**(b)Plan on the bases**

Recurring in organization
(1)Standing plan

دهغه پلان ګڼل کیږي څخه عبارت دی چه په یوه اداره کی یوکارپه تکراری ډول ترسره کیږی او ددی په اساس مدیربایدورته یوپلان جوړکړی او دا په دوه ډوله دی

- Policy
- Rules and regulation

Policy دادارې داهدافو لپاره یو ځل ټاکل کیږی

Rules and regulation

په یوه اداره کی ټاکل کیږی چه دډیرو پریکړو څخه مخ نیوی وشی

Clear instruction for performing activities

(2)Single use plan

عبارت دهغه پلان ګڼل کیږي څخه دی چه په اداره کی یو ځل عملی کیږی بیا نه تکراریږی داهم په دوه ډوله دی

- Program
- Project

Program

عبارت دهغه پلان ګڼل کیږي څخه دی چه دټولو فعالیتونودترسره کولولپاره استعمالیږی او داوږدې مودی لپاره وی

Project

عبارت دهغه پلان ګڼل کیږي څخه دی چه نظردپروګرام ته مغلق او پیچیده وی او کمه اندازه فعالیتونودترسره کولو لپاره ترسره کیږی دلنډې مودی لپاره وی

Program/project

- Duration
- Budget
- Scope

ketabton.com - The Digital Library



- Benefits
- Specific

**©Plan on the basis of areas**

*(1)Marketing plan*

*(2)Production plan*

هغه پلان ګزاری چه دتولید دجوړښت داهدافو دترلاسه کولو لپاره جوړیږی

**(3)Human resources plan**

عبارت دهغه پلان ګزارئ څخه دی چه دضرورت وړاشخاص داوړدی او لنړی مودئ دنیولو اودهغوی دکیفیت دښه والی لپاره ترسره کیږی

**(4) Financial plan**

دمالی بودیجی ټاکل دهغی کنترولول اودبودیجی ویش ترسره کیږی

**(5)Contingency plan**

عبارت دهغه کومکی پلان ګزارئ څخه دی چه داصلی پلان ګزارئ سره یو ځای جوړیږی ترڅوپه مشکوک حالت کی تری کاروا اخیستل شی

## PLANNING PROCEESS

**(1)AWARE OF OPPORTUNITY/PROBLEM**

دپلان ګزارئ په اوله مرحله کی مدیرد ځینو منابعو پواسطه کوشش کوی چه ترڅو دیوښه ګټوری موقع څخه ځان خبر کړی چه ترڅووکولی شی چه ددغی موقع څخه په صحیح استفادی سره دخپل تجارت اهداف ترلاسه کړی

**(2)ESTABLISHING OBJECTIVES** په دوهمه مرحله کی مدیر دموقع اودمشکل دحل لپاره اهداف ټاکی

**(3)DEVELOPING PREMISES**

External factors

Internal factors

په دریمه مرحله کی مدیربايد دځینو فکتورونو پیش بینی وکړی دموقع او دمشکل دحل لپاره ځینی فکتورونوپه اړه معلومات ترلاسه کړی

**(4)DETERMINING ALTERNATIVES COURSE OF ACTION**

یومنیجربايد متبادل فعالیتونه مشخص او واضح کړی

**(5)EVALUATION OF ALTERNATIVES**

پدی مرحله کی دمتبادلوفعالیتونوارزیابی کول اودغه فعالیتونه څیړل مدیربايد متبادل فعالیتونه دخریدار دتقاضا په اساس دوخت او بودیجی په اساس ارزیابی کړی

**(6)SELECTION COURSE OF ACTION**

ketabton.com - The Digital Library



په شپږمه مرحله کی مدیرباید دمتبادلو ارزیابئ ځخه وروسته خپله کېږوره دفعالیتونو پروسه انتخاب کړی ترڅودداری اهداف ترلاسه کړی

**(7)FORMULATING SUPPORTIVE PLAN**

په اوومه مرحله کی دمتبادلو انتخاب ځخه وروسته دمشکل دښه حلولولپاره منیجرباید حمایتی پلانونه جوړکړی داساس په عملی کولوکی مرسته اوکومک وکړی

**(8)NUMBERIZING PLANS BY BUDGET**

دټولو انتخاب شویو پلانونو (لوی اوواړه)پلانونولپاره بودیجه ټاکو اودبودیجی په اساس یی عملی کوو

# Decision making

**Process of choosing course of action among alternatives**

عبارت دهغه پروسی ځخه دی چه ددی پواسطه دفعالیتونو پروسه ټاکودمتبادلو ځخه یومدیرباید کوشش وکړی چه تصمیم نیونه یی منطقی وی او یوه کېږوره دحل لاره راوباسی
دتصمیم نیونی دپروسی لپاره باید یو ښه دفعالیتونو پروسه انتخاب کړو
مدیرباید زیات نه زیات معلومات ولری

یومدیر دتصمیم نیونی پروسه کی تریو حده منطقی کیدلی شی ځکه چه دډېرو تصمیم نیونولپاره معلومات محدود وی

# Decision making process

(1)Identify problem/objective دیومشکل مشخص کول او واضح کول

(2)Search alternative course of action

دمشکل مشخص کولو ځخه وروسته مدیرباید په دوهمه مرحله کی دمختلفومتبادلو فعالیتونو پروسی دحل لاری پیداکړی

(3)Evaluation of alternatives

دتصمیم نیونی پروسه کی مدیرباید متبادل فعالیتونه دلاندی فکتورونو په اساس ارزیابی کړی

(a)Quantitive factors

- Time
- Cost

(b)Qualitative factors

- Consumer
- Supplier
- Labors
- Competitors

ketabton.com - The Digital Library



- Technology

(4)Selecting best course of action

په ځلورمه مرحله کی مدیربایډ دفعالیتونوبهترینه پروسه انتخاب کړی وروسته دارزیابئ

(a)Experience

دتجربی په اساس دفعالیتونو انتخاب

(b)Experimentation

دېولومتبادلوفعالیتونو عملی کول تر څوبهتره فعالیت معلوم کړای شو

©Research and Analyze

پدی طریقه کی مدیردېولومتبادلو فعالیتونوپه اړه پلټنه کوی اودغه متبادل فعالیتونه ارزیابی کوی تر څوبهترینه فعالیت پیداکړئ

***<u>Decision making conditions</u>***

## په یوه اداره کی تصمیم نیونه دری حالته لری چه عبارت دی له

**(1)Certainty**

عبارت دهغه حالت څخه دی چه مدیردتصمیم نیونی په اړه معلومات لری اودخپلی تصمیم نیونی په پایله پوهیږی

**(2)Risky**

دهغه تصمیم نیونی څخه عبارت دی چه دمشکل په اړه معلومات موجودوی اما مدیردتصمیم نیونی په پایله نه پوهیږی

**(3)Uncertainty**

دتصمیم نیونې هغه حالت څخه عبارت دی چه مدیردمشکل په اړه معلومات نلری اوهم نه پوهیږئ چه دتصمیم نیونې پایله به څه وی

## <u>Types of decision making</u>

(1)Programmed decisions

- Structured
- Routine

پدی تصمیم نیونه کی دتکراری منظم اوترتیب شوی مشکلاتو په اړه دپالیسئ اوقواعدو په بڼه تصمیم نیونه کوو

(2)Unprogrammed decisions

دنامعلومو،شکمنو اوهغه ستونزئ چه په اداره کی په لومړی ځل رامنځته شوی وی عموما دټاپ لیول اومیډل لیول لخوا ترسره کیږی

## <u>Methods of decision making</u>

ketabton.com - The Digital Library



(1)Individual decision making

(2)Group decision making

دګروپ په شکل تصمیم نیول اودنورومدیرانو څخه مشوره اخیستل ترڅودتصمیم نیونې Risk دګروپ په شکل وویشل شی اودا په دوه ډوله دی

(a)Commission دیوګروپ خلک په اداره کی دبحث له لحاظه تصمیم نیونه کوی

(b)Brain storming

پدی طریقه کی دټولومدیرانونظرونه دکاغذ پرمخ لیکل کیږی اوبیاددغی نظرونو په اړه بحث کیږی ترڅو هرنظرارزیابی شی اودارزیابئ نه وروسته دښه نظرلپاره رای دهی کیږی پدی طریقه کی باید لاندی نظرونه په نظر کی ونیول شی

(۱)په هیڅ نظرباید انتقاد ونه نیول شی

(۲)دنظرونودپرمختګ لپاره نظرورکوونکی باید تشویق شی

©Delphi techniques

پدی طریقه کی یوګروپ تجربه کاره خلک په انفرادی شکل دیومشکل په اړه خپل نظرونه وړاندی کوی اودهریوشخص نظربل ته ویل کیږی ترڅوهغه نور اشخاص مؤافق یاخپل نظرونه وړاندی کړی داکارترهغه پوری دوام کوی ترڅویوه صحیح دحل لاره پیداکړی(یعنی ټول ګروپ په یو نظروی

## ***Organizing***

It Is a process of establishing structure for work relationship in order to achieve organizational goals effectively and efficiently.

عبارت دهغه پروسې څخه دی چه ددی پواسطه دیواداری کاری ساختمان جوړو اوصحیح کارکوونکی په صحیح دندو ګماروترڅو دادارې اهدافوته په مؤثره اوګټوره توګه ورسیږو.

### Organization

عبارت دهغه سیستم څخه دی چه دادارې ټواک پواسطه په متحده توګه دادارې اهدافو ترلاسه کولولپاره کارکوې

### Organizational structure

عبارت دهغه سیستم څخه دی چه دتنظیم والی پروسی څخه منځته راځی دتنظیم پواسطه دیوسازمان ساختمان جوړو

ELEMENTS OF ORGANIZATIONAL STRUCTURE

ketabton.com - The Digital Library



هغه ټول وظایف چه د organizing پروسې پواسطه ترسره کیږی داداری جوړښت دعناصرو څخه عبارت دی

| | |
|---|---|
| Job design | Distributing authority |
| Departmentalization/grouping activities | Coordinating activities |
| Establishing reporting relationship | Line position/staff position |

***Job design** (1)*

ددندوترحه کولو څخه موخه هدف یعنی دکارکوونکودکارساحه اومسؤلیت په ګوته کول دی یعنی په یوه اداره کی مدیرباید پدی وپوهیږی چه کوم کارکونکی باید کوم کارترسره کړی او څرنګه یی ترسره کړی

**Job specialization**

هرکارکوونکی باید پخپله دنده کی تخصص والی ولری دلویو دندو ویشل په وړو وړو برخو چه هرکارکوونکی یی مشخصه دنده ترسره کړی

**JOB SPECIALIZATION ADVANTAGES**

(۱)ډیر کار په لږوخت کی ترسره کیږی
(۲)ضایعات پکی کم وی
(۳)دنوی کارمند روزنه په اسانئ سره کیږی

Disadvantages

(۱)کارکوونکی ستړی اونارامه کیږی
(۲)رقابت له منځه ځی
دکارکوونکی دغیرحاضرئ په وخت کی کارنیمګړی پاتی کیږی(۳)

**Alternatives of job specialization**

(1)Job rotation

ددندو دوران څخه مطلب دادی چه په سیستماتیکه توګه دکارکوونکوتغیرول دیوی دندی څخه بلی دندی ته

(2)Job enlargement

یوکارکوونکی ته په یوه اداره کی یوکارسره په تدریجی ډول نور کارونه سپارل فقط وظایف زیاتیږی صلاحیت نه

(3)Job enrichment

په یوه اداره کی کارکوونکی ته ددندو په اضافه والی سره سره دهغی صلاحیتونه هم زیاتیږی

*Grouping activities/departmentalization*

ketabton.com - The Digital Library




په یوسازمان کی دکارونودتنظیم لپاره دوهم عنصر په ګروپی توګه ددندو ترسره کول دی هغه پدی چه کله یوه اداره ځینی دندی سره یوځای کړی او هغی لپاره بیله ځانګه جوړه کړی دی ته ګروپی دنده ترسره کول وایی په لویو ادارو کی ټول کارونه دیومدیر لخوا څارل اوارزیابی کول ګران کار دی نوددی لپاره داداری ټول کارونه په ګروپی شکل په برخو ویشل کیږی اوهره برخه یی مدیرلری اوهر ګروپ ته ډیپارټمنټ وایی

## Types of departmentalization


Dividing organization into different departments

## (1)Functional structure




په یوه اداره کی یوشان وظایف ډلبندی کوو او ورڅخه یوډیپارټمنټ جوړو.

## (2)Divisional structure





داداریٔ جوړښت دهغه ویش څخه عبارت دی چه اداره دیوشان والی له لحاظه په ډیپارټمنټونو ویشل کیږی

## (3)Product division structure


ketabton.com - The Digital Library







## (4) Customer structure

عبارت دهغه اداری ساختمان ځخه دی چه دخریدار segments په اساس اداری ته مختلفی ځانګی یابرخی ټاکو





() Geographic structure دساحی یا جغرافیایی موقعیت په اساس اداری ساختمان جوړول





**Hybrid structure ()**

عبارت دهغه جوړښت چه په هر مدیریت کی هم وظیفوی او هم تولیدی جوړښت موجود وی یعنی په اداره کی د functional او divisional جوړښت دمجموعی ځخه جوړشوی وی




**Matrix structure** (4)

عبارت دهغه جوړښت ځخه دی د functional او divisional جوړښت په نتیجه کی منځته راځی دوظیفوی اوتولیدی جوړښت کی دګډترکیب په پایله کی رامنځته کیږی پدی جوړښت کی تولیدی جوړښت په عمودی اووظیفوی جوړښت په افقی بڼه پروت وی پدغه جوړښت کی د اوامرو ـ کړئ په دوه اړخیزه توګه ترسره کیږی په افقی اوعمودی بڼه پدی معنی چه هم وظیفوی جوړښت او هم تولیدی جوړښت مدیرانوته راپور ورکول کیږی




## ***ESTABLISHING REPORTING RELATIONSHIP***

ketabton.com - The Digital Library



دریم بنسټیز عنصر دمدیرلپاره دسازمان دتنظیم په برخه کی تری کاراخلی دسازمان په داخل کی دڅانګوترمنځ دراپور ورکولو داړیکورامنځته کول دی

## (a)Chan of commands

دامرونوکړئ دصلاحیت هغه کرښه ده چه دادارئ دلوړی کچی څخه ترټیټی کچی پوری دمدیریت غزیدل دی. داوامرو کړئ په سازمان کی دا روښانه کوی چه کارکوونکی چاته راپور ـ ورکړی او که کومه ستونزه پیداشی دچاڅخه مرسته وغواړی. داوامروـ کړئ کی باید دری شیانوته متوجه شو

(۱)صلاحیت
(۲)مسؤلیت
(۳)دامرونو یووالی

## (b) Span of management

دمدیریت حدود عبارت دهغه پیپارټمنټونودحدودو ـ څخه دی چه په مدیریت کی دبشری همکارئ دزیاتوالی لپاره لوړپوړی مدیران دادارئ سطحی زیاتوی

(1)Tall span of management دمدیریت زیاتی سطحی موجودی وی
(2)Flat span of management دمدیریت کمی سطحی موجودی وی

# Distribution of authority

دکاردښه ترسره کولولپاره مدیریا عامردخپل لاس لاندی مدیرانوته یواندازه واک ورکوئ اویا یی نه ورکوئ ترڅوکارونه په منظمه توګه ترسره شی. دواک دویش له لحاظه اداری په دوه برخو ویشل کیږی

(a) Centralization

عبارت دهغه اداروڅخه دی چه مدیرټول واک په خپل لاس کی اخلی اوپه اداره کی نه غواړی چه واک نوروته ورکړی

## Advantages

- Control
- Privacy
- Reduce unethical activities

## Disadvantages

→ Time consumption
→ Less effective
→ Load of work
→ Lack of motivation

(b) Decentralization

عبارت دهغه اداروڅخه دی چه عامرخپل واک دخپلو کارمندانوپه منځ کی په منظم ډول ویشی

## Advantages

ketabton.com - The Digital Library



- Effectiveness
- Motivation. Less load of work on top mgmt.

## Disadvantages

- Corruption

## ***Coordinating activities***

په یوه اداره کی مختلفی ځانګی سره تړل په یوځای فعالیتونه ترسره کول یعنی په اداره کی هرډیپارټمنټ په خپل منځ کی هماهنګی او همغږی ولری اودفعالیتونوپه ترسره کولوکی باید دیوبل سره کومک وکړی

## Line position

عبارت دهغه بستونوڅخه دی چه دسازمان ټاکل شوی اهدافو دلاسته راوړولو لپاره نیغ په نیغه کارکوی اوداداری داهدافو لاسته راوړولو مسؤلیت په غاړه لری

## Staff position

کومکی بستونه هغه بستونه دی چه دسازمان داهدافو لاسته راوړلو لپاره مستقیما کار نه کوی بلکی داصلی بستونو دکارکوونکولپاره شرائط محیا کوی ملاتړیی کوی اوپه غیری مستقیما توګه داداری داهدافو لاسته راوړلو لپاره کارکوی

## *Leadership*

It Is a process of influencing people to contribute in the group goals of organization

عبارت دهغه پروسی څخه دی چه مدیرخپل کارکوونکوته لارښوونه کوی،هغوی تشویقوی او هغوی سره دمفاهمی اړیکی ساتی اورامنځته کوی یی

It is a process of influencing behavior of employees in order to achieve organizational goals willingly and enthusiastically.

عبارت دهغه پروسی څخه دی چه مدیر ددی پواسطه دکارمندانو فعالیتونه او کارکردګی اغیزمن کوی ترڅو داداری اهدافوته په مؤثره اوګټوره توګه ځان ورسوی.

Leadership is a relationship

رهبری یوه اړیکه ده چه ددی پواسطه مدیر کولی شی چه داداری اهداف په ګروپی شکل ترلاسه کړی دغه اړیکه دپوزیشن،پاور او توانایی پواسطه رامنځته کیږی

## Leader

Person who lead, Motivate, Guide and influence behavior of organizational members

رهبر:عبارت دهغه کس څخه دی چه په یوه اداره کی خپل کارمندان رهبری کوی،تشویقوی، رهنمایی کوی اود هغوی رویه سلوک داسی متاثره کوی ترڅو داداری اهدافوته ځان په موثره اوګټوره توګه ورسوی

## Characteristics of manager and leader

ketabton.com - The Digital Library



## Leader

1: Innovator نوښت راوستونکی

2: Original رهبرهمیش کوشش کوی چه کارونه پخپل تصمیم نیونې سره اودکارمندانوپه مشورې سره ترسره کړی

3: Focus on employees and people رهبرپه خلکوباندی توجه کوی

4: Develop رهبرکوشش کوی چه اداره کی پرمختګ رامنځته کړی

5: Inspire trust رهبردکارمندانوپه منځ کی اعتماد رامنځته کوی

6: Long range view رهبراوږدمهاله نظر لری

7: Ask what and why

8: Eyes on the horizon رهبرکوشش کوی چه دکارکوونکوځخه زیات کاروااخلی دهغوی په خوښه

9: challenge the status quo

10: Does the right things رهبرکوشش کوی چه کارداساس ځخه صحیح کړی

## Manager

1: Administer اجراکوونکې

2: A copier منیجرهمیش دکارکولوطریقه دنوروځخه کاپی کوی اوخپل کارونه ترسره کوی

3: Focus on system and structure منیجرپه سیستم اوجوړښت باندی کوشش کوی

4: Maintain منیجراداره پخپل حالت کی ساتی

5: Relies on control منیجرکنترول باندی کوشش کوی

6: Short range view منیجرلنډمهاله نظرلری

7: Ask how and when

8: Eyes on the bottom line منیجرکوشش کوی چه کوم هدف ورکړل شوی همغه ترلاسه کړی

9: Accept the status quo

10: Does things right منیجرکوشش کوی چه ځومره کارونه ترسره کیږی چه صحیح یی ترسره کړی

ketabton.com - The Digital Library



# Leadership skills

## 1: Communication skill

ښه رهبرباید دخلکوسره دخبروکولو او اړیکونیولومهارت ولری چه دا د **knowledge** پواسطه کیږی اوزیات **listening** ته ضرورت لری یو **leader** باید دهری موضوع په اړه مکمل معلومات ولری

## Cultural flexibility :2

یو ښه **Leader** باید دهرکلتوردخلکوسره جوړامد وکړی یعنی دهغوی د **cultural value** په نظرکی ونیسی

## Human resources development skill :3

یو ښه رهبربایددکارکوونکو دظرفیت لوړولو مهارتونه ولری.همکاری،هغوی ته مختلف **Training** برابرول،سیمنار،ورکشافونه او هغوی ته رهنمایی کول

## 4: Self-Management and Self Learning, Awareness

یو رهبرباید همیش دزده کړی مهارت ولری او د ټولوحالاتو څخه باخبر اوسی

## Time and stress management :5

یو ښه رهبربایدخپل وخت په منظمه توګه اداره کړی اوخپل ټول کارونه په یومنظم پلان سره ترسره کړی

## Motivating and influencing :6

یو ښه رهبرباید دتشویقونې مهارت ولری اودخپلوکارمندانو رویه اوسلوک په مثبته توګه تغیرکړی ترڅودهغوی څخه زیات کار واخلی

## Setting goals and vision :7

یو ښه **Leader** داهدافو ټاکلو او **Vision** تعینولومهارت ولری ترڅوپه سمه توګه خپل اهداف ترلاسه کړی

## Recognizing defining and solving problems :8

یو ښه رهبرباید اداري ټول مشکلات په اساسی او بنیادی توګه حل کړی یعنی اول باید مشکل مشخص کړی چه مشکل څه دی اود مشکل اساس ته باید ځان ورسوی چه مشکل دکوم ځای څخه راپیداشوی اودحل لاره یی څه ده

## Team building :9

یورهبرباید دخپلوکارمندانو څخه د **Team** په شکل کارواخلی اوهغوی همیش تشویق دکاردلاښه والی لپاره

## Managing conflict :10

یو ښه **Leader** باید په اداره کی دکارکوونکو ترمنځ د **conflict** شخړی راپیداکیدلو په ښه توګه سره حل کړی

## 11: Creativity

یورهبرباید په هرکارکې نوښت راولې اوکوشش وکړی چه کارونه په کمومنابعوسره ډیر OUTPUT په لاسته راوړلوسره ترسره کړی

# ***Leadership theories***

## 1: Trait theory of leadership

Leaders are born not made

رهبر مورذاتي وی زیږیدلی نشی ددی نظریی په اساس رهبر جوړیدلی نشی اوهیڅ لاره نشته چه درهبرۍ خصوصیاتۍ زده شی یعنی رهبرزیږیدلې رهبروی ددی تیوری په اساس یو رهبر بایـد لانـدی خصوصـیات ولری

۱: رهبرۍ ته علاقه
۲: زیرکتیا
۳: ایمانداری
۴: په ځان اعتماد

## 2: Group and exchange theory

دګروپ اوتبدیلۍ تیوري عبارت دهغه نظریې څخه دی چه رهبرکوشش کوی چه خپلوکارکوونکوته دبوج اوتاوان په نظرکې نیولوسره Reward ورکړی

دمثبت فکرپه لرلوسره رهبرکوشش کوی چه دکارکوونکوڅخه دګروپ په شکل کی کار واخلی اود ګټې په مقابل کی یی تشویق کړی

## Path goal leadership theory :3

دموخې دلاري ټاکلوتيوری:پدې نظریه کی رهبرخپل کارکوونکې ته موخې ټاکی دموخی دټاکلو وروسته هغوی ته دموخورسیدلو لپاره هغوی ته رهنمایی کوی اوددغه موخو لاسته راوړلولپاره ورته یوه مناسبه لاره ورپه ګوته کوی چه شته خنډونه له منځه یوسی ددی نظریې په اساس رهبری په څلورو ډولونو ویشل شوی

## A: Direct leadership

پدی نظریه کی رهبرخپلوکارمندانوته دموخو رسیدلولپاره رهنمایی کوی اوکارکوونکی پوهیږی چه دوی بایدڅه وکړی او څنګه موخی تر لاسه کړی

## B: Supportive leadership

پدی نظریه کی رهبردکارکوونکوخوښې ته ارزښت ورکوی او رهبرکوشش کوی چه خوشحاله چاپیریال په اداره کی رامنځته کړی پدی نظریه کی رهبردکارمندانو ملاتړکوی ترڅو دسازمان اهدافوته ورسیږی

ketabton.com - The Digital Library



### C: Participated leadership

پدی نظریه کی رهبرخپلوکارمندانوته په تصمیم نیونه کی برخه ورکوئ اودهرکار په ترسره کولو کی دخپلوکارمندانو ځخه مشوره اخلی چه دغه کار خپله دکارمندانو دتشویق سبب ګرځی

### D: Achievement oriented leadership

د مؤافقه لاسته راوړنی رهبری: پدی نظریه کی رهبرخپلوکارمندانوته چیلینجی موخی ټاکی اوکوشش کوی چه دچیلینجی موخوپه ټاکلوسره دکارکوونکوپه کړنو او دسازمان په پرمختګ کی بهتروالی راولی پدی نظریه کی رهبرپدی باورلری چه کارکوونکی یی دلوړو اهدافو لاسته راوړلو توانایی لری

### 4: Transformational leadership

درهبرئ تغیرکوونکی نظریه : پدی نظریه کی رهبرکوشش کوی چه دحالاتوپه تغیرسره خپلی رهبرئ کی تغیر راولی یعنی دکارکوونکوپه ارزښتونوباور اود ضرورتونوپه کتلوسره په اداره کی مثبت تغیر رامنځته کړی ددی نظریی په اساس رهبری لاندی خصوصیات لری

۱: رهبرباجرئته وی

۲: رهبرتغیر راوستونکی وی

۳: رهبرپه خلکوباور لری

۴: رهبرارزښتونوته اهمیت ورکوی

۵: رهبر همیش دزده کړی کوشش کوی

۶: رهبریوه ښه دیدګاه لری

۷: رهبرددی توانایی لری چه دمغلق،پیچیده ، شکمن اوسختوحالاتوسره مجادله وکړی

### 5: Charismatic leadership

پدی نظریه کی رهبران هغه کسان دی چه الله تعالی خاص درهبری خصوصیات ورکړی وی اوکارکوونکی ددوی ځخه پیرزیات متاثره وی دوی پیرقوی شخصیت لرونکی وی په ځان اعتماد لری او ښه Communication skills لری دوی یوه ښه دیدګاه لری ددوی Followers پیرزیات وی

# ***Motivation***

Is a process of improving desire to do the job

Process of increasing efficiency and effectiveness of employees to achieve organizational goals

Process of improving individual performance

تشویقول عبارت دهغه پروسی ځخه دی چه ددی پواسطه

۱: دافرادو هځی پیاوړی کوو اوکوشش کوو چه دغه افراد په صحیح توګه رهبری کړو

۲: دسازمان داهدافو لاسته راوړلولپاره په خوځښت راځی اوکوشش کوی چه مؤثره اوګټوره کارونه وکړی

ketabton.com - The Digital Library




## INDIVIDUAL PERFORMANCE

1: Desire to do the job (Motivation)
2: Ability to do the job
3: work environment resources needed to do the job

## *THEORIES OF MOTIVATION*

د تشویقونېځ دنظریو ځخه هدف دادی چه ځرنګه یو مدیر کولی شی چه دکارکوونکو ځخه دهغوی دتوان په اندازه کېه واخلی اودهغوی په کارکردګۍ کی پرمختګ رامنځته کړی

**1: Maslow’s theory of hierarchy of needs**




میسلو په خپله نظریه کی داسی وویل چه هرکارکوونکی داړتیا له لحاظه ترڅودغه اړتیا پوره کړی هڅه کوی اوددغه ضروریاتوپوره کولو په صورت کی هرانسان تشویق دی

### 1: Physiological Needs

- Food
- Water
- Shelter
- Cloth

اساسی ضرورتونه

### 2: safety Needs

- Security
- Stability

ځانته داوسیدلو زمینه برابرول

### 3: Belongingness Love Needs

دخلکوسره ټولینیزی اړیکی ټینګول

ketabton.com - The Digital Library



4: Esteem Needs

دخودبینی ضرورتونه یعنی چه زه پدی ټولنه کی په یونوم یادشم، دمقام دپیداکلولپاره کوشش کول

5: Self actualization دغڅی لاسته راوړنې لپاره هڅې کول

## 2: Expectancy theory

ددی تیوری په اساس هرکارمند دتوقو ته درسیدو لپاره په هماغه اندازه کارکوی یعنی یوانسان دتوقودلاسته راوړلولپاره په هماغه اندازه تشویق دی

**Expectation**
**Ability**

ایازماتوانایی به ماښه اولوړو کړنوته رهبرکړی( څومره کارته ضرورت دی چه خپلی توقوته ورسیږو

**Instrumentality**
**Performance**

ایازما کړنه به زماموخې ته ما ورسوی اوکه نه( ایا زه دتوانایی سره سره دکارکولو اسباب یا وسایل لرم او که نه)

**Valence**
**Reward**

ایا زه به دقناعت وړ پایله ترلاسه کړم اوکه نه (ایا زه به ددی پایلی ظرفیت لرم اوکه نه)

## 3: Equity theory

دعدل نظریه:پدی نظریه کی یومدیربايد دوه سره ورته بستونه [ یعنی کارمندان] دتشویقولولپاره عدل او انصاف په نظرکې ونیسی دمثال په ډول په یوه اداره کی سره ورته بستونه ته باید یوشان معاش ورکړل شی اوباید دکارمندانو ترمنځ عدل او انصاف وشی که ددغی سره ورته بستونوپه منځ کی عدل او انصاف رامنځته شی نوکارمندان په خپله تشویقیږی

## 4: MC Gregors theory x and theory y

ددی نظریی په اساس په هره اداره کی دوه ډوله خلک موجود دی چه تشویقول یی په لاندی ډول سره کیږی

A: theory(y)په هغه کسان دی چه کارخوښوی او ددوی تشویق **Reward** او **Recognition** سره کیږی

## B: Theory x

هغه کسان دی چه دوی کار نه خوښوی په هیڅ نوع **Reward** او **Recognition** سره نه تشویقیږی نوددغی خلکو څخه د **punishment** یعنی سزا ورکولو باید کار واخیستل شی

***Special motivation techniques***

1: Money

- ✓ Reward
- ✓ Food
- ✓ Transportation

ketabton.com - The Digital Library



2: Participation هرکارمندته په تصمیم نیونه کی برخه ورکول چه پدی سره هم تشویقیږی

3: Job enrichment یوکارکوونکی ته ددندوپه اضافه والی سره سره د هغی صلاحیتونه هم زیاتول

4: Empowerment کارمندانوته واک ورکول

## CONTROLLING

عبارت دهغه پروسې څخه دی چه ددی پواسطه دکارونو څخه لیدنه یعنی مشاهده کوو۔ دکارونوپرتله کوو او دکارونوسمولو نتیجه ګیری دلاسته راوړلو پروسې څخه عبارت دی

هرمدیربایډ دکنترول په پروسه کی دلاندی مراحلو څخه کار واخلی

### 1: Setting standards

دمعیاری کړنوټاکل یعنی دهرکارپه شروع کی مدیربایډ دکاردترسره کولو لپاره معیار وټاکی

### 2: Measuring performance

دعملی کړنو اندازه کول : دشخصی لیدنی پواسطه ترسره کیږی دمختلفوراپوړونوپه کتلوسره ترسره کیږی

### 3: Comparison په دریمه مرحله کی داداری کارکردګی دمعیارسره اندازه کوو۔

### 4: Taking corrective actions

په څلورمه مرحله کی مدیرددی لپاره چه مشکلات حل شی څېنی لازم تصمیمونه نیسی اود اداری دفعالیتونو دصحیح ترسره کولو لپاره خپلوکارمندانوته لازمه رهنمایی کوی

### 5: follow through

په پنځمه مرحله کی مدیربایډ درهنمایی سره سره دصحیح شوو عملونوتعقیب وکړی

### 6: Feed on control

په اخره مرحله کی مدیربایډ دکنترول دپروسې نتیجه ګیری لاسته راوړی اوپدی وپوهیږی چه دغه کنترول پروسه څومره مؤثره وه

## Types of control

### 1: Feed forward control

ابتدایی کنترول: دغه کنترول دکاردپیل څخه مخکی ترسره کیږی اومدیرکوشش کوی چه دراتلونکوپیښو۔ مخنیوی وکړی لکه په ساختمانی پروژه کی دکارکوونکولپاره وسایل

### 2: Concurrent control

همزمان کنترول: دغه کنترول دکارپه جریان کی ترسره کیږی په یوه اداره کی چه کله یوه ستونزه رامنځته شی نومدیرکوشش کوی چه په عینی وخت کی دغه ستونزه حل کړی

## 3: Feedback on control

عبارت دهغه کنترول څخه دی چه دکارپه اخره کی ترسره کیږی کله چه کارختم شی له هغی وروسته دا پول څارنه ترسره کیږی
پدی څارنه کی مدیرمعلوموی چه دادارې په کوم کارکی ستونزه وه اوکه نه وه او که دادارې ټاکل شوی اهداف ترلاسه شو اوکه نه

دا ډول څارنه دلاندی اهدافولپاره ترسره کیږی
دکارونوپه اړه معلومات لاسته راوړل (۲) دکارکوونکودتشویق لپاره ۱:

## Organizational performance

The end result of organizational activities is called organizational performance
Measures of organizational performance

دادارې کارکردګی اندازه ګیری دلاندې دوه طریقو سره کولی شو

**1: Productivity** = Efficiency $\frac{\text{output}}{\text{Input}}$

### 2: Effectiveness

How well organization will achieve defined goals

څرګنده کولی شو چه په یوه اداره کی په کم وخت اوپه ښه توګه خپل اهدافوته ورسیږو

## Tools for measure of organization performance

په لاندې وسایلوسره کولی شو چه دادارې کارکردګی معلومه کړوچه مؤثره اوکه ګټوره ده

**1: Financial control** دمالی راپورونوپه کتلوسره دادارې کارکردګی اندازه کوو

**Benchmarking :2**

Choosing best practices to perform organizational activities
په اداره کی دکارونودترسره کولولپاره معیارټاکل اوددی له مخی دادارې کارکردګی معلومول

**Balance score card :3**

عبارت دهغه کارکردګی داندازې دوسیلی څخه دی چه په څلوروساحوکی دادارې کارکردګی یاکارونه کنترولوی

**Information control :4**

دمعلوماتو لاسته راوړلوسره دادارې کارکردګی معلومول، ارزیابی کول اوصحیح تصمیم نیول

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*